د ورانکارۍ ستاینه ښه کار دی؟

**خبر:**

د ناټو بروکسل غونډه کې چې کله له ولسمشر اردوغان څخه، د ولسمشر بایډن د هغې کلمې په اړه پوښتنه وشوه، چې په ۲۰۱۵م کال کې یې د ارمنستان "نسل وژنې" په اړه کارولې وه، نو ویې ویل: "د خدای شکر دی، چې هغه یې هېڅکله ونه منله" سرچینه: (Agencies 15.06.2021)

**تبصره:**

له بده مرغه کله چې ملتونه د ګټې په اساس رامنځته شوي وي، مشران يې هېڅ ثابت دریځ نه لري، کاغذي هوډ لري، د یوه کوچني مقاومت پر وړاندې هم تاب نشي راوړلی او له منځه ځي. دا مه هیروئ چې دوی مشران ښکاري او خلک دوکه کوي، خو په حقیقت کې هېڅ دي. ښه مشر د جګړې، زړورتوب، هوښیارۍ، قضاوت او سیاست له مخې معلومیږي، خو دوی نه په جنګ کې حوصله، بصیرت او مېړانه ښيي، نه هم په سیاست او سرپرستۍ کې.

د ناټو بروکسل له غونډې یوه ورځ مخکې اردوغان د "ارمنستان نسل وژنې" په اړه چغې وهلې، چې پوښتنه به یې کوي، خو کله چې په غونډه کې ترې پوښتنه کېږي؛ وایي چې "د خدای شکر دی، چې هغه یې هېڅکله ونه منله" له بایډن سره په دې موضوع نه غږېدل د اردوغان لپاره یوه سیاسي رسوایي وه.

**[...وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ]** [المنَافِقون: 8]

***ژباړه:*** *...عزت خو د الله، پیغمبر او مؤمنانو لپاره دی، خو دغه منافقان نه پوهیږي.*

که څه هم ناټو د شوروي اتحاد پرضد په نویمه لسیزه کې جوړه شوې، خو د شوروي له ړنګېدو وروسته يې اساسي موخه اسلام او مسلمانان دي. ترکیه په دې اتحادیه کې یوازینی هېواد دی چې مسلمانان دي، خو د دې پرځای چې ځان ګوښه کړي او یو ځانګړی دریځ اختیار کړي، راځي د ناټو له قضاوتونو ستاینه او ملاتړ کوي، په داسي حال کې چې د ناټو اصلي موخه د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې جګړه ده. سربېره پر دې د اسلام له بچیانو څخه د اسلام پروړاندې ګټه اخیستل، موږ او زموږ ګوډاګیو مشرانو ته ډېر د شرم ځای دی، خو دغه بې ضمیره مشران هېڅ شرم نه احساسوي. متحده آیالات چې د کفر سرلاری دی د ارمنیانو د نسل وژنې خبره مطرح کوي او زموږ ذلیل مشران یې ستاینه کوي او په ردو، ردو ورته ګوري.

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ]** [الصَّف : 2]

***ژباړه:*** *اې مؤمنانو! تاسو ولې هغه څه وایاست چې کوئ یې نه!؟*

راځئ اردوغان ته ووایو چې د دوی ستاینه او غوړه مالي نشي کولای موږ له دوی څخه خلاص کړي؛ راځه د خپل ځان او نورو مسلمانانو پروړاندې د دې خبیثانو سپکاویو، بریدونو او تیریو ته د ټوپک په څوکه ځواب ووایه او پروړاندې یې پوځي غبرګون وښایه!

دا هغه څه دي چې طارق بن زیاد (رح) د هسپانیې له فتحې او د تولیډو د تخت له ړنګیدو وروسته وکړل، دا هغه څه دي چې صلاح الدین ایوبي (رح) د صلیبیانو څخه د بیت المقدس پاکولو وروسته وکړل، دا هغه څه دي چې سلطان عبدالحمید ثاني (رح) په استانبول کې د محمد فاتح (رح) له فتحې

وروسته د کفري پلانونو تباهۍ لپاره وکړل او دا هغه څه دي چې زموږ رب يې غواړي او د مسلمانانو زړونه پرې آرام او سترګې پرې يخېږي.

تاسو اوس هم له متحده ايالاتو، اروپا او نورو کفارو سره د ملګرتيا هڅه کوئ!؟ په داسې حال کې چې دوی د امت زرين تاريخ نشي زغملی او په ټول توان سره يې دښمني کوي!؟ اوس هم غواړي خپل دې شرمناک حالت ته دوام ورکړې؟!

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر

احمد صفا